# د بُست

## علمي او څېړنيزه مجله

| ټوک | ګڼه | کال |
|---|---|---|
| دوهم | لومړۍ | ۱۴۰۲ |

بسم الله الرحمن الرحيم

# بُست علمي او څېړنيزه مجله

**بُست پوهنتون**
**دوهم ټوک – لومړی ګڼه**
**کال – ۱۴۰۲**

# بُست علمی او څېړنیزه مجله

# بُست پوهنتون

**د امتیاز خاوند:** بُست پوهنتون

**مسؤل مدیر:** پوهنمل دوکتور ناصر ضیا ناصری

**کتنپلاوی:**

- ⇐ پوهندوی رضوان الله مملوال
- ⇐ پوهنمل عبدالعزیز صابر
- ⇐ پوهنمل عبدالولي هجران
- ⇐ پوهنمل حنیف الله باوري
- ⇐ پوهنیار عبدالولی همت
- ⇐ پوهنیار بشیر احمد بابا زوی
- ⇐ خان محمد وفا
- ⇐ ډاکټر ذبیح الله انوری
- ⇐ پوهنوال دوکتور احمد جاوید پویش
- ⇐ پوهنوال دوکتور خال محمد احمدزی
- ⇐ پوهندوی دوکتور غلام رسول فضلي
- ⇐ پوهندوی دوکتور علی احمد
- ⇐ پوهنمل دوکتور عبدالوهاب حکمت
- ⇐ پوهنمل دوکتور ناصر ضیا ناصري
- ⇐ پوهندوی نیاز محمد زاهدي

**ډیزاین:** د بُست پوهنتون دخپرنیزو او فرهنګي چارو مدیریت

د خپرولو کال: ۱۴۰۲

پته: بُست پوهنتون، لښکرګاه،هلمند، افغانستان

## د بُست پوهنتون د رئیس پیغام

په نني ژوند کې د يوې علمي مؤسسې يو له مسؤليتونو څخه دا دی ، چې نه يواځې خپل محصلان د پوهې په ګاڼه سمبال کړي، بلکې د پوهنتون د لوړو زده کړو لرونکو پوهانو او استادانو د علمي زيرمتون څخه داسې څه وخت په وخت راوباسي، چې د ټولنې د ژوند د اړتياوو د پوره کولو لپاره او يا لږ تر لږه د ټولنې د لوستي قشر د خبرولو او که وکولای شي له هغوی څخه د عمل په ډګر کې د ګټې اخيستنې په موخه ، په کار واچول شي.

و دې موخې ته د رسيدلو لپاره پوهنتون بايد يو داسې علمي خپرندويه ارګان ولري، چې په هغه کې د پوهنتون ټول با صلاحيته منسوبين که هغه استاد وي، که کارکوونکی او که زده کړه يال ، خپلې علمي او څېړنيزي مقالې او ليکنې د کاغذ پر مخ باندې کښيښودلای شي.

زما په شخصي آند پدې مجله کې لکه له نوم څخه چې يې ښکاري، بايد داسې مسائل را برسيره شي، چې نه يواځې په پوهنتون پورې راګير پاتې شي، بلکې په عام ډول سره د افغانې ټولنې او په ځانکړي ډول سره د هلمند ولايت د اوسيدونکو و نني او سبا ژوند ته په کتلو سره، بريالیتونونه، ستونزي ، وړانديزونه او د حل لارې-چارې ، وړاندې کړل شي.هغه وخت به د بُست پوهنتون علمي مجله يواځې د بست پوهنتون نه، بلکې د ټول هلمند ولايت ، آن د سيمې او ټول افغانستان په کچه د پوهې او څېړنې په برخه کې د وخت د غوښتنو سره سم ، د پاملرنې وړ او و ځوان نسل ته د يوې سمې لارې د ښودلو په موخه ، يوه محبوبه او پر زياتو خلکو باندې ګرانه مجله وي او په ټول هيواد کې به خپل مينه وال ولري.

دا مجله به د بُست پوهنتون د مشرتابه، استادانو ، محصلانو ، فارغانو او ټولو مينه د علمي او څېړنيزو مقالو د خپرولو لپاره که هغوی د پوهې په هر ډګر کې چې وي، يو خپرنيز ارګان وي،چې و خپريدلو ته به يې ټول مينه وال په تمه ناست وي.څومره به پرځای او ښه خبر وي، چې د ټولنې لوستی قشر په تيره بيا د بست پوهنتون محترم استادان ، فارغ شوي او بر حاله محصلان د علمي او څېړنيزو مقالو و ليکلو ته و هڅول شي.

زه د بُست پوهنتون د ټولو منسوبينو په استازيتوب وياړ لرم ، چې د بُست پوهنتون د علمې مجلې د خپريدلو له امله د محترم مؤسس، محترم علمي مرستيال او د څيړنې له محترم آمر او همدا رنګه د مجلې له ټولو کارکوونکو او پرسونل څخه د زيار او زحمت په ګاللو سره چې مجله يې و خپريدلو ته چمتو کړې ده ، مننه او قدرداني وکړم، ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وايم او هيله لرم چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې کارکوونکي به خپل رسالت د پوهنتون او ټول هلمندې ولس او په اخری تحليل کې د ټول افغان ملت پر وړاندې په پوره او ټينګ عزم سره سرته ورسوي.

**په درنښت**

**ډيپلوم انجنير محمود سنګين**

**د بُست پوهنتون رئيس**

## سریزه

بُست پوهنتون ویاړ لري چې د خپل علمي پرمختګ په لاره کې یې یو بل ډېر مهم او اړین ګام پورته کړ او هغه د بُست د علمي او څېړنیزي مجلې د دوهم ټوک، لومړی ګڼه خپرېدل دي . تر هر څه دمخه د پوهنتون ټولو استادانو، محصلانو او د علم او پوهې د لوی کور مینه والو ته د بُست د علمي او څېړنیزي مجلې د خپرېدلو مبارکي وړاندې کوم او ددې سره جوخت د ټولو ملګرو څخه چې ددې مجلې د جواز په تر لاسه کولو، ترتیبولو او خپرولو کې یې نه ستړې کېدونکې ونډه اخیستې ده د زړه له کومې مننه کوم.

د علمي کور کهول او اړوند کسانو ته ښکاره ده او پوره باور لري چې د نننۍ نړۍ هر اړخیزه پر مختګ د پوهانو د علمي څېړنو د زیار له برکته ممکن سوی او د لوړو زده کړو مؤسسې، اکادمیک انستیتوتونه او څېړنیز علمي مرکزونه پکښې مرکزي او پریکنده رول لوبولی دی.

همدې اصل او ارزښت ته په کتو سره بُست پوهنتون غواړي د پرمختللو اکاډمیکو نورمونو په رعایت د تدریس، علمیڅېړنو او نوښتونو له لارې مسلکي کادرونه وروزي او د معیاري تحصیلي اسانتیاوو او زمینو په برابرولو سره د ټولنې ځوانانو ته معیاري او د لوړ کیفیت لوړې زده کړې وړاندی او د علمیڅېړنو پر بنسټ د کره پوهنیزو اثارو د تولید زمینه برابره کړي ، ترڅو د لوړو زده کړو او مسلکي پوهې په ډګر کې د ګټورو مهارتونو په تر لاسه کولو او د خپلو رښتینو اهدافو په لاسته راوړلو سره د ټولنې او هیواد په پرمختګ او رغونه کې رغنده ونډه واخلي او د رښتیني خدمت جوګه شي.

ژمن یو چې د هلمند ولایت، ګاونډیو ولایتونو او په ټول هیواد کې ځوان نسل ته د اسلامي ، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کې معیاري د علمي او مسلکي لوړو زده کړو او پراخو علمي څېړونو زمینه برابره او ټولني او هیواد ته ژمن او روزل سوي کادرونه وړاندي کړو.

د اوس لپاره د بُست علمي او څېړنیزه مجله یوازي د **سائینسي علومو** په برخه کې علمي او څېړنیزي مقالي او لیکني د چاپ او نشر د تګلارې سره سم مني او خپروي او هیله مند یو چې په راتلونکې کي به نوري برخي هم ور زیاتي کړل سي.

ډاډ لرم چې د بُست پوهنتون استادان، محصلان او علمي کارمندان به انشأالله، نن، سبا او په راتلونکې کې د خپلي علمي څېړنیزي مجلې د خپرولو له لاری خپل دغه دروند خو ویاړلی دین (پور) ادأ کړي. همدا ډول ټولو د علم او پوهي ښتنانو او مینه والو ته په مینه سره بلنه ورکوو چې ددی علمي او څېړنیزي مجلي او د بُست پوهنتون د پرمختګ په لاره کي خپلي علمي او څېړنیزي لیکني، آندونه، وړاندیزونه او رغنده نیوکي او مرستي د تل په شان راولوروئ او د علم ددي ستر کور په ودانولو کي د خپلي دیني، او ملي برخي د اداینې ویاړ راوبخښی.

موږ هوډ کړیدي او هیله مند یو چي انشآ الله د وخت په تیریدو سره به د خپل هیواد و بچیانو او ځوان نسل ته د تدریس ، ښه روزني او څېړنیز هاند لپاره اړیني او د پام وړاسانتیاوي برابري کړو تر څو په لومړي پړاو کښي خپلو هلمندوالو بیا د سهیل لویدیځي حوزي او په پاي کښي و ټولو هیوادوالو ته د یو داسي چوپړ مصدر وګرځي چي زموږ د ځوریدلي اولس او ویجاړشوي هیواد اقتصادي، فرهنګي، سیاسي او ټولنیزي ستونزي حل او افغانستان د نړي د پرمختللوهیوادونو په لیکه کي ودریږي.

## لړلیک

**د مقالې عنوان** | **د صفحې شمیره**


**د کندهار په میرویس حوزوي روغتون کې د Sub Mucosal Resection واقعاتو څېړنه**
ډاکټر زلمی عالمي، ډاکټر ذبیح الله انوري ، ډاکټر سید بسم الله سجادي ------------------ ۱

**د کندهار په میرویس حوزوي روغتون کې په معدوي زخمونوکې**
**د هضمي جهاز د پورتنۍ برخې د وینه بهیدنې واقعاتو مطالعه** ---------------------------------------- ۲
ډاکټر نصرالله نصرت، ډاکټر ذبیح الله انوري، ډاکټر سید بسم الله سجادي

**په نوزاد ولسوالۍ کې د انارو د تولید لګښت، ناخالصې ګټې،**
**خالصې ګټې او مارکیټینګ چینلونو اقتصادي تحلیل** ----------------------------------------------- ۳
پوهنیار زمریالی تنی، پوهندوی ډاکټر علي احمد، حمید الله هدایت

**د جوارو پر حاصل او د حاصل پر مرستندویه برخو باندې د پوټاشیم اغیزې**
پوهنمل محمدیار ملکزی، پوهنیار زمریالی تڼی ---------------------------------- ۴

**د ټولنې په سوله او ثبات کې د کرنې رول**
پوهنمل محمد یار ملکزی، پوهنیار زمریالی تڼی -------------------------------------------------------- ۶

**RAINFALL-RUNOFF MODELING OF ARGHANDAB RIVER BASIN IN AFGHANISTAN**
ABDUL WALI HEJRAN AND ESMATULLAH SANGIN -------------------------------------------------------- ۷

**د DYNAMIC ROUTING پروټوکول عملیاتو ته کتنه** --------------------------------------------------------
محمد ادریس وزیری، خان محمد وفا، جماالدین جمال ۸

**د IP ADDRESS په اساس د سیستم د څارنې پلې کیدنه** --------------------------------------------------
خان محمد وفا، جماالدین جمال، سید محمد عادل ۹

**د INTERNET PROTOCOL ADDRESS پیژندنه او د هغه پلې کیدنه** ----------------------------------
خان محمد وفا، جماالدین جمال،سید محمد عادل ۱۰

**پر کاروربار باندې د معلوماتي تیکنالوژۍ اغیزې** ----------------------------------
ارسلان وطندار ، پوهندوی دوکتور علی احمد، محیب الله امیني ۱۱

# پر کاروربار باندي د معلوماتي تیکنالوژۍ اغیزي

ارسلان وطندار[1*]، پوهندوی دوکتور علی احمد[2]، محیب الله امیني[3]

[1,3]اداره او تشبثات څانګه، اقتصاد پوهنځی، بست پوهنتون

[2]کرنیز اقتصاد او ترویج څانګه، کرهنې پوهنځی، هلمند پوهنتون

د مسؤل ایمیل آدرس: ar.watan1988@gmail.com

## لنډیز

الکترونیکي تجارت د جغرافیې او د فعالیت ساحې له مخې مختلف ظرفیتونه رامنځته کړي ترڅو د پرمختللو هیوادونو لپاره نوي سوداګریز فرصتونه رامنځته کړي، او د موجوده شرکتونو او نویو شرکتونو سوداګریزې هوساینې رامنځ ته کړي . الکترونیکي تجارت په کورنیو بازارونو کې د توکو او خدماتو چمتو کولو او توزیع کې مهم رول لوبوي .په ډیرو پرمختللو هیوادونو کې الکترونیکي تجارت د مالي، ساختماني، سرچینو او حکومتداري خنډونو سره مخ دی .هغه هیوادونه چې دا خنډونه له منځه وړي او په خپل هیواد کې د الکترونیکي تجارت چوکاټ رامنځته کړي، هم د دې توان لري چې د دې ظرفیت څخه ګټه پورته کړي کور دننه او نړیوالې ننګوني حل کړي، په دغه څېړنه کې د انلاین تجارت په 9 هیوادونو کې بحث او تحلیل سوی دی، او د انلاین تجارت اوسنی وضعیت تشریح د 1891 وګړو چې مخلتف عمرونه، تحصیل،او کاروبارونه یې درلودل پوښتني سوی دی، چې 50% په انلاین ډول د محصولاتو پر رانیولو خوښ وه او له دې جملې څخه 30% په انلاین ډول د محصولاتو پر رانیولو کوم نظر نه درلود، یوازې 20% په انلاین ډول د محصولاتو پر رانیولو باندي ناخوښي څرګنده کړې ده، دا یو کیفي څیړنه ده چې د دوهمې ډاټا څخه استفاده سوې ده د (UN, IFC, IATA) څخه تر لاسه سوې ده او په ګرافیکي ډول له ګوګل څخه راخیستل سوې .

**کلیدي کلمې:** معلوماتي سیستم، کنترول، تصمیم، تصدي، ، تولیدات،

## سریزه

الکترونيکي تجارت د سوداګرۍ هغه بڼې ته ويل کيږي چې شيان په کښې د انترنټ يا کمپيوټر نټورک په واسطه اخيستل يا خرڅول کيږي .همدارنګه د الکترونيکي تجارت، اجتماعي مفاهيمو اغېز پر ټولنه باندي خورا ژور دی .د يويشتمي پيړۍ الکترونيکي تجارت د نړۍ پر عمومي تجارت باندي ستر اغېز کړی دی.د تکنالوژۍ د پرمختګ له امله اوس مهال مشتريان ډيری توکي انلاين اخلي .له همدې امله اوسني تجارت پوهان د مشتريانو د تقاضا د زياتوالي او د سيالۍ د چټکوالي په موخه په الکترونيکي تجارت باندي د زياتي پانګوني او پاملرني ټينګار کوي.کله چې انترنټ پيدا سو الکترونيکي تجارت فايدې او زيانونه اجتماع ته ورکړه او انټرنټ مشتريانو ته ډير ارزښتونه برابر کړي دي تر څو هغوی و کولای سي چې د خپل کور او کار ځای څخه په اسانۍ د انترنټ او نورو برقي اسانتياو له لاري پير او پلور وکړي.په لوړه کچه د الکترونيکي خدماتو وړاندي کول په عمومي ډول د ويبپاڼو په مټ تر سره کيږي .يعني مشتريان کولای سي د خپل اړتيا وړ شيان د ځيني شرکتونو ويبپاڼو سره د تجارتي اړيکو په واسطه واخلي.

د انټرنټ تخفيف معمولاً د دوکان يا بازار څخه په کمه بيه وړاندي کيږي، ځکه چې د کارکونکو او ځانګړي سوي فزيکي سطحي نشتون د تجارتي شرکت د عرضه کولو لګښت کموي. مشتريان کولای سي چې څلورويشت ساعته د انترنيټ له لاري سودا وکړي، کولای سي چې د خپل موبايل څخه په هر ځای کي په آسانه توګه سودا واخلي، مشتريان کولای سي په مختلفو سايټونو کي د خپلي خوښي محصولات پيدا او په چټکۍ سره ترلاسه کړي، همدارنګه مشتريان کولای سي په مختلفو سايټونو کي نرخونه مقايسه او تر ټولو ارزانه شی واخلي، کله چې رانيونکی د يو توکي پيسې ورکوي نو رانيونکی دي د هغوی په سايټ باور ولري تر څو د هغوی په سايټ کي خپل شخصي معلومات داخل کړي او د ښه ضمانت لپاره دوی بايد په ويب آدرس کی د قفل علامه وګوري چی دا دلالت د ښه ضمانت ورکوي.

د الکترونيکي تجارت لوی مشکل دا دی کله چې د ډيرو دوکانونو او شرکتونو لرونکې سوداګري خپله ټوله پاملرنه د ويبپاڼو له لاري پير او پلور ته واړوي نو ددې امکان ډير زيات دی چې په ياد مارکيټ يا شرکت کي يو شمېر کارکونکو ته اړتيا له منځه لاړه سي، يا د استخدام د طرز له مخي يو شمېر ماهر کسان له بازار څخه ووځي او په ځای يې هغه کسانو ته اړتيا زياته سي چې د تکنالوژۍ سره بلد وي، دا چاره کيدای سي د يو هېواد په اقتصاد کي د نورو سکتورونو دندي او فعاليت اغېزمن کړي.

## مواد او کړنلاره

### الف. د څېړني ځای او وخت

انسانان له پيړيو پيړيو راهيسي په دې لټه کي دي چي طبيعي حوادث وپيژني، او له دې سره يې خپل تر وسه مبارزه هم کړېده، او د هغې لپاره يې مختلفي حل لاري پيدا کړي دي. دغه هڅې له منظمو تګلارو سره يوځای وي، نو ځکه په پايله کي يې د توجو وړ پرمختياوي منځ ته راغلي دي. د څېړني په تګلاره کي موخه د هغو ټولو فعاليتونو طريقه ده چي هدف ته د رسېدلو لپاره صورت نيسي. څېړنه له هغه تګلاري څخه عبارت ده،چي له هغه څخه په استفادې څېړونکي د واقعيت قوانينو ته لاره پيداکوي، دا يو کيفي څېړنه ده چي د دوهمي ډاټا څخه استفاده سوې ،د (UN, IFC, IATA) څخه تر لاسه سوې ده او په ګرافيکي ډول له ګوګل څخه راخيستل سوې ده.

څېړونکي د دغي علمی مقالې ليکل په 1402 کال بُست پوهنتون اقتصاد پوهنځي کي د دريو مياشتو په جريان کي ترسره کړې ده.

### . د څېړني ډيزاين

د دغې علمي مقالې په ليکلو کي له نويو او معتبرو ماخذونو څخه کار اخيستل سوی دی، يعنی دغه مقاله د کتابتوني ميتود پر اساس بشپړه سوې ده، خو په وروستی برخه کي د افغانستان له شرايطو سره سم او د ټولني او د افغانستان د اقتصادي حالت مطابق لازم سپارښتونه سوي دي.

### په معاصر کاروبار کي د معلوماتي سيستم ونډه:

اوس مهال د نړيوال اقتصاد په کچه کاروبار او تجارت د تېر په شان نه دي. په 2008 کي متحده ايالتونو کي کاروبار نږدې 840 بيليونه ډالره په معلوماتي سيستم ، هارډوير ، سافټوير او ټيلي کمونيکېشن پوري اړونده وسايلو باندي لګولي . همدا راز د دې څخه برسيره به نور 900 بيليونه ډالره په اداري چوپړتياوو ولګيږي، چي زياتره برخه به يې د نوي تکنالوژۍ څخه د ګټه اخيستني په موخه د کاروبار په بيا ځل ډيزاينولو مصرف سي


(PDF) Modulhandbuch - Wiwi.rub.de · Seminar Zur Vertiefung Der Verhaltenswissenschaftlichen Grundlagen Der Personal- Und Führungsforschung X Strategisches Controlling X .(Unternehmensanalyse, 2014)

**برېښنايي سوداګري:**

الکترونیکي سوداګري د سوداګرۍ هغه بڼې ته ویل کیږي چې شیان په کښې د انټرنیټ یا کمپیوټر نټورک په واسطه اخیستل یا خرڅول کیږي . همدارنګه د الکترونیکي سوداګرۍ اجتماعي مفاهیمو اغېز په ټوله باندي خورا ژور دی .د یویشتمې پېړۍ الکترونیکي سوداګرۍ د نړۍ پر عمومي سوداګرۍ باندي ستر اغېز کړی دی.د تکنالوژۍ د پرمختګ له امله اوس مهال رانیونکي ډیرۍ توکي انلاین اخلي .له همدې امله د اوسني سوداګرۍ پوهان د رانیونکو د تقاضا د زیاتوالي او د سیالۍ د چټکوالي په موخه په الکترونیکي سوداګرۍ باندې د زیاتې پانګونې او پاملرنې ټینګار کوي.کله چې انټرنیټ پیدا سو برېښنايي سوداګرۍ فایدې او زیانونه اجتماع ته ورکړه او انټرنټ مشتریانو ته ډېر ارزښتونه برابر کړي دي تر څو هغوی و کولای سي چې د خپل کور او کار ځای څخه په اسانۍ د انټر نیټ او نورو برقي اسانتیاو له لارې پیر او پلور وکړي په لوړه کچه د الکترونیکي خدماتو وړاندې کول په عمومي ډول د ویبپاڼو په مټ تر سره کیږي .یعنې رانیونکي کولای سي د خپل اړتیا وړ شیان د ځیني شرکتونو ویبپاڼو څخه د سوداګریزو اړیکو په واسطه واخلي (COVID-19 and E-COMMERCE - Home | UNCTAD Download / Covid-19-And-e-Commerce-Home-Unctad.pdf / .(PDF4PRO, 2022

د انټرنیټ تخفیف معمولاً د دوکان یا بازار څخه په کمه بیه وړاندې کیږي، ځکه چې د کارکونکو او ځانګړي سوي فزیکي سطحي نشتون د سوداګریز شرکت د عرضه کولو لګښت کموي. رانیونکي کولای سي چې څلورویشت ساعته د انټرنیټ له لاري سودا وکړي، کولای سي د خپل موبایل څخه په هر ځای کي په آسانه توګه سودا واخلي، رانیونکی کولای سي په مختلفو سایټونو کي د خپلې خوښې محصولات پیدا او په چټکۍ سره تر لاسه کړي، همدارنګه رانیونکي کولای سي په مختلفو سایټونو کي نرخونه مقایسه او تر ټولو ارزانه شی واخلي، کله چې رانیونکی د یو توکي پیسې ورکوي نو رانیونکی دي د هغوی په سایټ باور ولري تر څو د هغوی په سایټ کي خپل شخصي معلومات داخل کړي او د ښه ضمانت لپاره دوی باید په ویب آدرس کی د قفل علامه وګوري چې دا دلالت د ښه ضمانت ورکوي.

د الکترونیکي سوداګرۍ لوی مشکل دا دی کله چې د ډېرو دوکانونو او شرکتونو لرونکي سوداګر خپله ټوله پاملرنه د ویبپاڼو له لارې پیر او پلور ته واړوي نو ددې امکان ډېر زیات دی چې په یاد مارکېټ یا شرکت کې یو شمېر کارکونکو ته اړتیا له منځه ولاړه سي، یا د استخدام د طرز له مخې یو شمېر ماهر کسان له بازار څخه ووځي او په ځای یې هغه کسانو ته اړتیا زیاته سي چې تکنالوژۍ سره بلد وي .دا چاره کیدای سي د یو هیواد په اقتصاد کي د نورو سکتورونو دندي او فعالیت اغېزمن کړي.( (Essentials of Marketing Research, 2008))




**۱ شکل: د انلاین پلور وده**

۱-۱.شکل: دمثال په ډول د امریکا متحده ایالاتو کي د آی ټي د کارولو زیاتوالی

۱- ۱ شکل کي ښکاري چې د 1980 او 2004 کلونو ترمنځ خصوصي پانګونه په معلوماتي تکنالوژۍ، هارډویر، سافت ویر او ټیلي کمونیکیشن وسایلو کي له 34 سلني څخه 50 ته د ټولې پانګونې په پرتله وده کړې (2537297 Introduction to Information Technology ) .(Mcgraw Hill, 2008

د یو مدیر(منیجر) په حیث که تاسي په داسي کمپنۍ کي کار کوی چې معلوماتي سیستم کاروي او په تشدیدي ډول معلوماتي تکنالوژیکي پانګونه کوي نوتاسي حتماً په دې پوهېدل غواړۍ چې دا پانګه څنګه په کار واچول سي. که تاسو یو ښه تصمیم ونیسی نو ستاسو کمپنۍ به له سیالو کمپنیو څخه مخکښه وي او که تاسو یو ساده تصمیم ونیسی نو ښایي تاسو خپله ارزښتناکه پانګه له لاسه ورکړی . دا لیکنه د دې لپاره ځانګړې

سوې چې د معلوماتي تکنالوژۍ او معلوماتي سیستم په هکله تاسو سره د ښو تصامیمو په نیونه کې مرسته وکړي.

## معلوماتي سیستم څنګه د کاروبار بڼه بدلوي

تاسو کولای سی هره ورځ په خپل شاوخوا کې ډیر زیات لګښتونه ووینی چې څنګه یې کاروباري خلګ ترسره کوي. په تیرو کلونو کې د لاینې یا سیم لرونکي تیلفون په پرتله زیات بې سیمه ګرځنده تیلفونونه د کاروبار لپاره په کار اچول سوي او ګرځنده تیلفون black Barry, I phone email او آنلاین کنفرانسونه د یو تجارت لپاره اساسي وسایل ګڼل کیږي. نن سبا 58% امریکایان خپل ګرځنده تیلفون پرته له غږیږو موخو یا خبرو اترو څخه د نورو موخو یا خبرو اترو لپاره کاروي لکه لنډ پیغام لیږل،برېښنالیک،عکسونه اخیستل،د نقشو کارول او ویډیو ریکارډ(Horrigan 2008). په جون 2008 کې له 80 میلیونو زیاتو نړیوالو تجارتونو د ډاټ کام ویبپاڼې راجستر کړي وې چې له دغه جملې څخه 60 میلیونه یې یوازې د امریکا

په متحده ایالاتو کې راجستر سوي وې (2537297 Introduction to Information Technology Mcgraw Hill, 2008).



۲ شکل: انلاین پلور

نن ورځ 138 میلیونه امریکایان د آنلاین پیرودلو هڅه کوي ، له هغې جملې څخه 117 میلیونه هره ورځ پیرودل کوي، او پاته یې په آنلاین ډول پلټنه کوي.همدا راز په 2007 کې Fed Ex شرکت 100 میلیونه کڅوړې په متحده آیالتونو او United Parcel services (ups)، 3.7 میلیونه کڅوړې په ټوله نړۍ کې لیږدولي دي.یو تجارت باید د پیرودونکو بدلیدونکي تقاضا ته غبرګون وښیي، خپل ګودامونه تر ممکنه سطحې راکم کړي او په ورځنیو چارو کې عملیاتي موثریت تر لاسه کړي . له همدې امله د خامو موادو خرڅلاو ورځ تر بلې چټکتیا مومي او د اضافي لګښتونو د راکمولو لپاره دJust-in-time ګودام په طریقه اتکا مومي.د ورځپاڼو لوستونکي په کمېدو دي او 64 میلیونه خلګ خبر په آنلاین ډول تر لاسه کوي.67 میلیونه خلګ په متحده ایالتونو کې بلاګونه (Blogs)لولي او 21 میلیونه خلک بلاګ لیکي چې دا د لیکنې په برخه کې انقلاب رامنځ ته کوي (2537297 Introduction to Information Technology Mcgraw Hill, 2008).

ټولنیزو رسنیو لکه Myspace او Facebook نږدې په ترتیب سره 70 میلیونه او 30 میلیونه لیدونکي هڅولي او تجارت هم دغه ټولنیزي رسنۍ د خپلو کارکوونکو د نښلولو لپاره په میاشت کې کاروي.د اعلاناتوعوایدو په کال کې 35 فیصده وده کړې، چې په 2016 کال کې 39 میلیونو ته رسیدلي.د محاسبې نوی فدرالي قانون له کمپنیو غواړي چې د ایمیل لیکنې باید تر پنځو کلونو پوري وساتل سي، همدا راز د کسبګرو او روغتیا قوانین ټولې تصدۍ مکلفوي چې د کارګرو روغتیایي کېمیاوي معلومات تر 60 کلونو وساتي، په دې سره به د ډیجیټل ډول معلوماتو ساتنې ساحه پراخه سي او ددغه ډول لابراتوارونو شمېر به زیات سي.

### د مدیریت په معلوماتي سیستم کې نوښتونه:

په تکنالوژۍ کې دوامداره بدلون او د تجارت په کامیابۍ کې د تکنالوژۍ ونډه په یو تجارت کې د مدیریت معلوماتي سیستم په زړه پوری موضوع ګرځولې. زوړ سیستم په مطلق ډول له منځه ځي او نوی سیستم یې ځای نیسي، نوي صنایع رامنځ ته کیږي او هغه کمپنۍ بریالۍ کیږي چې په نوي تکنالوژۍ سنبال وي.د 1-1 جدول په تجارت کې نوي راښکاره سوي بڼې ښکاره کوي، چې په لنډ ډول یې تر بحث لاندې نیسو González (Moncada, 2020).

د تکنالوژۍ په عصر کې له یو بل سره درې تړلي بدلونونه شتون لري: ۱- د موبایل غوړیدونکی ډیجیټل پلټفارم ,Blackberry, Note book (IPhone)۲ – دآنلاین چوپړتیاوو په ډول د سافټ ویر وده .۳ – په فضا کې ساتنه cloud computingچې زیاتره سافټ ویرونه د انټرنټ له لاري کارول کیږي.د یادولو وړ ده چې دا بدلونونه په نورو تخنیکي برخو پوري هم تړاو لري لکه چټک او د بریښنا کم مصرفوونکی پروسېسر او نو ر تخنیکي وسایل IPhone, Blackberry یوتوب او فیسبوک یواځې عادي

ډيجيټل او د ساعت تيري وسايل ندي بلکي  دا د تکنالوژۍ د نوي دور استازيتوب کوي، چي په ځانګړي سافټ او هارډوير ولاړ او زياته پانګونه يې هڅولې ده چي نه يوازي دا پخپله کامياب توليدات دي بلکي د کاروباري شرکتونو له خوا د يو بريالي کاروبار په ډول پر مخ بېول کيږي، مورږ دې ټولو پرمختياوو ته platform emerging وايو مديران په معمول ډول د (web 0.2) تکنالوژۍ د ټولنيزو رسنيو  په ډول د ګډو همکاريو د وسيلې په ډول کاروي، ترڅو غوره او په وخت تصاميم ونيول سي.  په ميلونو مديران ګرځنده تليفون د کارکوونکو د تنظيم، د پيرودونکو رضايت او د اداري همږغۍ لپاره کاروي، او د زياترو لپاره پرته له ګرځنده تيلفون څخه يوه کاروباري ورځ تيرول د منلو وړ نده.دا چي اداري سلوک تغير بدلون مومي نو د کارونو همږغي، تنظيم او اندازه ګيري هم د بدلون په حال کي ده. په دوامداره ډول کارکوونکي په ټيم او پروژوي ډول کارونه ترسره کوي او د کار په ځای ،تصميم نيولو او اداره کي  له ټولنيزو شبکو څخه ګټه اخيستل کيږي. کارکوونکي هميشه يو بل سره په اړيکه او يو بل ګوري، که څه هم په بېلابيلو ځايونو او وختونو کي  شتون ولري، نو ويلی سو چي د cloud computing او digital mobile platform د اغېزمن رامنځ ته کېدلو مانا داده چي اداره اوس زياتره په (telework)، ( remote work) او ( distributed decision making) باندي ولاړه ده.


د غير مرکزيت په اړه فکر وکړی چي يو تصدي کولای سي د اداري له بهر څخه کارونه اداره کړي او نېغ په نېغه زياتره اتکاء  پر مارکېټونو ولري (نه په کارکوونکو) تر څو ارزښتونه رامنځ ته کړی سي د دې مانا دا هم ده چي تصدي له خرڅونکو او پيرودونکو سره مستقيماً د نويو توليداتو په رامنځ ته کولو يا د موجوده توليداتو په لاموثريت کي ګډ عمل کولی سي.دا ټول تکنالوژيکي بدلونونه چي د اوسني بدلېدونکي نړيوال اقتصاد بنه جوړوي، په حقيقت کي  د معلوماتي سيستم پرته يو اقتصاد کاميابۍ ته نسي رسېدلای (When Trade Falls- Effects of COVID-19 and Outlook, 2020).

## د کويد-19 تاثير پر الکترونيکي سوداګرۍ:

د کوويډ 19 - وبا او د دې ناروغۍ په خپرېدو سره ، د نړۍ ډېری هيوادونو قرنطينونه وضع کړل ، چي د پولو د بندېدو او د ټولنيز واټن د اعلان له امله ، تقاضا او توليد دواړه له کمېدو سره مخ سول او د اکمالاتو لړۍ ګډوډه سوه . .د نړۍ د هېوادونو اقتصاد ته ډېر زيانونه اوښتي او اقتصادي وده او ناخالص کورني توليدات يې ډېر کم سوي، په ځينو مواردو کي اقتصادي رکود ته ننوتلي دي  .په ورته وخت کي  برېښنايي سوداګري د انسانانو معمول ورځني خدماتو چمتو کولو لپاره د بديل په توګه ودرېد ، د نړيوال روغتيا سازمان لخوا د اعلان سره چي د آنلاين امرونو لېږل سوي کڅوړو له لاري د ککړتيا د ليږد احتمال لږ دی ، آنلاين پرچون پلور بې ساري ودې ته ورسېدی، د تفريحي مرکزونو، سينماګانو او سياحتي مرکزونو په تړلو سره، انټرنيټ تلويزيونونه، ټولنيزي شبکې، انټرنيټي تليفونونه او ټولنيزې شبکې د خلګو د تفريح اصلي بديلونه ګرځېدلي وه، د زده کړې او آنلاين کنفرانسونو په نړۍ کي تعليمي خدمات په لاره اچولي چي د برېښنايي سوداګرۍ ساحه د لوړې ودي سره يې تړاو درلود،  مخابراتي اړيکو په ډېری شرکتونو، خبري ادارو او تعليمي مرکزونو کي د فعاليتونو دوام ته اجازه ورکړه  .شرکتونو د مالي او قانوني پاليسيو په پلي کولو سره د خپلو فعاليتونو او پروسو او حکومتونو په نوښت کولو سره د برېښنايي سوداګرۍ پلاټ فارمونو ملاتړ وکړ او د بريښنايي سوداګرۍ صنعت  ته په وده ورکولو کي مرسته کړې،په ټولنيزو اړيکو او اقتصادي چلند کي د خلګو په ورځني عادتونو کي د بدلون او همدارنګه د ډيجيټل کولو او برېښنايي سوداګرۍ پراخېدو سره، دا تمه کېدلای سي چي راتلونکي کي به په نړۍ کي خوندي او ډېر باثباته اقتصادي انډولونه او اوږې رامنځ ته کړي، برېښنايي سوداګري د جغرافيې او د فعاليت ساحې له مخې مختلف ظرفيت رامنځ ته کړي ترڅو د پرمختللو هيوادونو لپاره نوي سوداګرۍ فرصتونه رامنځ ته کړي او د موجوده شرکتونو او نويو شرکتونو سوداګريزي هوسايني رامنځ ته کړي،  برېښنايي سوداګرۍ په کورنيو بازارونو کي د توکو او خدماتو چمتو کولو او توزيع کي مهم رول لوبوي  په ډيرو پرمختللو هيوادونو کي برېښنايي سوداګري د مالي، ساختماني، سرچينو او حکومتدارۍ خنډونو سره مخ دی،هغه هېوادونه چي دا خنډونه له منځه وړي او په خپل هيواد کي د برېښنايي سوداګرۍ چوکاټ رامنځ ته کړي، هم د دې توان لري چي د دې ظرفيت څخه ګټه پورته کړي  کورنۍ او نړيوالې ننګوني حل کړي ، که نه نو دوی لږ انعطاف لري .دننه او دوی په نړيواله صحنه کي لږ سيالي کوي همدارنګه، برېښنايي سوداګريزو ظرفيتونو څخه د ګټې اخيستني لپاره د اقداماتو په نشتوالي کي ، دا خطر چي ډيجيټل نوښتونه به د هيوادونو تر منځ د لوی نابرابرۍ لامل سي ډېريږي، د کويد 19- دوره په عصري تاريخ کي يو له لوی بحرانونو څخه ده او د روغتيا پاملرني متخصصينو ، حکومتونو ، سوداګرۍ او په ټوله نړۍ کي د خلګو لپاره د لوی شاک په توګه راغلل، د کوويډ-19 وروسته نړۍ کي، د برېښنايي سوداګرۍ بې ساري وده باندي مورږ باور لرو، چي د ملي پرچون چوکاټونو او د نړيوالي سوداګرۍ اساسات ګډوډ کړي - او په پايله

کې په کورني او نړیواله کچه د ودې لپاره ځانګړي فرصتونه وړاندې کړي . (**Simola, 2021**)

د COVID-19 دوره په عصري تاریخ کې یو له لوی بحرانونو څخه ده - که ترټولو لوی بحران نه وي - او د روغتیا پاملرنې متخصصینو ، حکومتونو ، سوداګرۍ او په ټوله نړۍ کې د خلکو لپاره د لوی شاک په توګه راغلې. ډیری هیوادونه او سیاستوال د ویروس د لا خپرېدو او د روغتیا پاملرنې سیستم د سقوط د مخنیوي لپاره زړور او سخت اقدامات کوي. لکه څنګه چې خلک باید په کور کې پاته سي او ټولنیز واټن تمرین کړي ، ډیری سوداګرۍ او صنعتونه له جدي ستونزو سره مخ دي اوپه دې برخه کې لومړی نړیوالي سوداګرۍ ته یو کتنه کوو چې څنګه متاثره سوې ده(**Maryla et all., 2020**)..





**کال د تولیداتو کمښت 2009 شکل:3**

په پورته لومړي ګراف کې لیدل کیږي چې نړیواله سوداګري د حجم او ارزښت په اساس د 2006 څخه تر 2020 پورې ښودل سوې ده . چې نړیواله سوداګري یو ځل په 2009 کال مالي بحران کې د تولیداتو حجم کم سوی دی، او په بل ځل د کوید-19 د بندیزونو له امله رامنځ ته سوې چې نړیواله سوداګري د حجم او ارزښت له مخې ټیټه سوې ده (**Maryla et al., 2020**)


**پر الکترونیکي کاروبار تاثیر ددې کاروبار په وړاندې خنډونه**

**4 شکل: 2020 کال کې د عرضې د ځنځیر متاثره کیدل**




په پورته دوهم شکل کې د ملګرو ملتونو د څیړنې لمخې چې په 2020 کې ترسره سوې ده، د الکترونیکي سوداګرۍ په وړاندې خنډونه لیدل کیږي، ښیي چې عرضې ځنځیر په زیاته اندازه (62%) متاثره سوی دی، همدارنګه لوجیستیک لګښتونه، د انټرنیټ لګښتونه ، الکترونیکي سوداګریز لګښتونه ، د ټرانسپورټ او رسوونې لګښتونو کې مهم ګواښ من عوامل ښودل سوي دي.


کتمن سوي انلاین سوداګرۍ




**5 شکل: په 2020 کال کې د انلاین سوداګریزو کمپنیو کټه**

په پورته دریم چارټ کې د 2020 کال د مارچ د میاشتې څخه د 2020 کال تر سیپټمبر پورې د لویو انلاین سوداګریزو چارو ته رجوع لیدل کیږي، چې په ټولو کښې والمارټ ، امازون او ایبې شرکتونو په ترتیب سره لومړی، دوهم او دریم مقام درلودلی دی، او دې کاروبارونو ډیره ګټه لاسته راوړې ده(**Maryla,2020**)..


**په انلاین ډول د محصولاتو رانیولو باندې د موجوده نظرونو ډولونه:**




**6 شکل: د کرونا نه مخکې د انلاین پلو ګراف**


په پورته څلورم چارټ کې د 2020 کال د جون دمیاشتې څخه د 2020 کال د ټولو مجموعي پوښتنلیکونو (1819) څخه له کرونا وبا مخکې 6% خلکو

يوازي له انټرنيټ څخه محصولات رانيول، 18% خلکو اکثره محصولات له انلاين سوداګريزو پاڼو څخه رانيول، 30% خلګو کله کله په انلاين شکل محصولات رانيول، 33% خلګو ټول محصولات، د سټورونو څخه رانيول، همدارنګه په هر هيواد کي يې تاسو مشاهده کولای سی (United Nation Report, 2020).




**7 شکل: په 2020 کال کي انلاين پلور ګراف**

په پورته پنځم چارټ کي د 2020 کال د جون د مياشتي څخه د 2020 کال د ټولو مجموعي پوښتليکونو (1819) څخه د کرونا وبا په جريان کي 12% په انلاين ډول ټول د ضرورت وړ اجناس رانيول، 26% اکثره اجناس په انلاين ډول د ضرورت وړ اجناس رانيول، 44% په انلاين او سټور ډول د ضرورت اجناس رانيول، 14% اکثره په حضوري ډول د ضرورت وړ اجناس رانيول، يوازی 4% خلګو ټول اجناس په حضوري ډول ټول د ضرورت اجناس رانيول، او له انلاين سوداګرۍ څخه يې استفاده نه کول. (UNCTAD, 2020).




**8 شکل: انلاين پلور**

په پورته شپږم چارټ کي د 2020 کال د جون د مياشتي څخه د 2020 کال د ټولو مجموعي پوښتليکونو (1819) څخه لومړی د اړينو محصولاتو پر انلاين پيردولو باندي 18% ډېر خوښونکي، 37% خوښونکي، 27% کوم نظر نه درلود، 11% نه خوښونکي، 7% ډېر نه خوښونکي وه، دوهم پر ټولو شيانو باندي انلاين پيردولو خوښونکي له ډلي څخه 17% ډېر خوښونکي ، 36% خوښونکي، 28% کوم نظر نه درلود، 11% نه خوښونکي ، 9% هيڅ خوښونکي وه، دريم په محلي ډول د محصولاتو خرڅلاو له جملي څخه 15% ډېر خوښونکي، 32% خوښونکي ، 32% کوم نظر نه درلود، 12% نه خوښونکي، 9% هيڅ خوښونکي وه، او همدارنګه د محصولاتو خرڅلاو پر تفريحي سايټونو د نظر ورکولو له جملي څخه 13%ډير خوښونکي ، 29% خوښونکي، 33% نه خوښونکي، 10% هيڅ خوښونکي موجود وه (UNCTAD, 2020)

## نتيجه او مناقشه

که چيري زموږ پانګوال، تجاران او کاروباريان خپل چاروا کي له IT څخه کار واخلي او پر دغه سيستم باندي حاکميت ولري، نو خامخا به د دوی د وخت او نورو سرچينو ضايعات کم سي ،او له معاملاتي خطرونو به وژغورا سي. په کاروبارونو کي د معلوماتي سيستم ونډه له ورايه معلومه ده چي عمده هدف د کاروبارونو سريع کول او ساده کول دي، تر څو د شيانو د جوړولو پر وخت د في واحد مصرف را کم کړی سي، په اوسني وخت کي موږ ګورو چي معلوماتي تکنالوژي په کاروبارونو کي مثبت تغير راوستلی او زياتره صنعتي کاروبارونو د خپلي پانګوني زياته برخه په معلوماتي تکنالوژي مصرف کړې ده، موږ په جرأت سره ويلای سو چي توليدي ادارو د خپلي پانګوني پنځوس سلنه برخه د معلوماتي تکنالوژۍ په برخه کي پانګونه کړې ده، موږ يې پايلي مثبتي ارزوو او د لا تشويق او ملاتړ غوښتنه يې کوو. معلوماتي تکنالوژي په نيو کاروبارونو کي زيات مثبت تغيرات راوستلي دي چي ښې بيلګي يې له موږ سره د موبايل، فاکسونو، اي کامرس، انټرنيټي او تلويزوني اشتهارونو او انټرنيټي پير او پلور کېدلای سي. معلوماتي تکنالوژۍ د ادارو په مصارفو کي د پام وړ کمښت راوستلی دی، ځکه خو په اوسني دور کي د مالي او انساني سرچينو د ښه مديريت لپاره له معلوماتي تکنالوژۍ څخه ګټه اخيستل کيږي، او همدا راز د تفاهم، خبرو اترو او راکړي ورکړي لپاره هم له معلوماتي تکنالوژۍ څخه ګټه اخيستل کيږي، چي استعمال يې بايد نور هم لا زيات مسلکي او تقويه سي(UNCTAD, 2020) .

بالاخره موږ ويلای سو چي د معلوماتي تکنالوژۍ له استعمال څخه پرته د اداري ستراتيژيک اهداف لاسته راوړل مشکل او حتی نا ممکن دي، ځکه خو په اکثره پرمختلليو هيوادونو کي د پلان جوړوني، پاليسي او ستراتيژي

جوړوني لپاره له معلوماتي تکنالوژي څخه ګټه اخيستل کيږي. ځيني کاروبارونه خو له معلوماتي تکنالوژي نه بغير حتی ممکن نده چي ژوندي هم پاته سي لکه bookboon.com, amazoon.com, virtual university او داسې نورځکه خو يې پرمختيا او استعمال اړين بللی سو.په ټولو کاروبارونو کي همدغه معلوماتي سيستم دی، چي له داخل او خارج د ادارې څخه د ډاټا په شکل خام مواد يا معلومات راټولوي، د يو ځانګړي سيستم له لاري پروسس کيږي، او بلاخره په معنی دار او مفهوم لرونکو معلوماتو اړول کيږي، چي د اداري لپاره همدغه معلومات يوه لويه شتمني بلل کيږي. د ذکر سوي معلوماتي سيستم له له لاري بيا همدغه معلومات له اړوند وګړو او ادارو سره شريک کيږي چي ګټه ورڅخه پورته کړي.

## پايله

معلوماتي سيستم د هغه ټرلو عناصرو يو سيټ دی چي معلومات راټول، پروسيس، ذخيره او توزيع کوي، تر څو په يوه اداره کي لوړ رتبه مامورين وتوانيږي چي په معياري شکل د کنترول او تصميم پروسه پر مخ يوسي. همدا راز که په يوه اداره کي پرمختللی معلوماتي سيستم وجود ولري، په وسيله يې مديران کولای سي چي د نويو شيانو جوړوني او مختلفو مخ پر وړاندي مسايلو ته د حل لاري چاري پيداکړي.د معلوماتو څخه هدف ټول هغه ارقام او اعداد دي، چي زموږ لپاره مفهوم لرونکي او ګټور دي. او ډاټا ټول هغه خام مواد او ارقام دي چي د اداري په فزيکي چاپيريال کي رامنځ ته سوي خو د نتيجه ګيری لپاره صنف بندي او برابرسوي نه دي چي له پروسس څخه وروسته په اړينو معلوماتو بدليږي. د دې توپير د وضع کولو لپاره يوګټور مثال کافي دی. د يو سوپر مارکېټ د scan څارونکي تخته په ميليونو کوډونه (Bar codes)چک او په نښه کوي چي د توليداتو په هکله بېلابېل معلومات وړاندي کوي، د ډاټا دغه برخه کي ضروري موضوعات راجمع او يو مفهوم لرونکي رقم (information) ترې رامنځ ته کيږي. د بيلګي په ډول په يو معلوم پلورنځی کي د يو معلوم توليد څو واحده خرڅ سوي او د کوم سوداګری مارک توليدات ډير ځله په کومه سيمه کي خرڅيږي او په نوموړې سيمه کي په دې سوداګريز مارک څومره لګښت راغلی. د معمول له مخي د سازماني اړيکو په لړ کي د مديريت د معلوماتي سيستم اصطلاح کارول کيږي (86:1).

که څه هم حتمي او الزامي نه ده چي د مديريت معلوماتي سيستم دی خامخا کمپيوټري وي، خو په عمل کي بيا نن ورځ نوموړي سيستم کمپيوتري دی، نن ورځ له همدې لاري د تصديو او کاروباورنو چاري او سوداګريز کارونه پرمخ ځي. د مديريت معلوماتي سيستم(MIS) په وسيله معلومات پروسيس، نشر او لېردول کيږي، او نن ورځ د کمپيوتر د معلوماتو په ذريعه سوداګريز سيستم پر مخ ځي. نوموړی سيستم نه يوازي دا چي کمپيوټر، بلکي د ارقامو او (input) لرونکی هم دی، چي هر يو له دغو څخه د يو بل سره د دوامداره تعامل په پايله کي يو هدف تعقيبوي، هغه د ګټې او کاروبار د کارونو ښه کول دي. که څه هم د کاروبار معلوماتي سيستم له يوې داسي منسجمي معلوماتي شبکې سره تړلي دي چي په سوداګری او د ګټو په تصميم نيولو کي ورڅخه کار اخيستل کيږي، خوپه خاص ډول د آی ټي معلوماتي سيستم څخه په استراتيژيکي پلان جوړونه، د اړيکو او الکترونيکي سوداګری له لاري د کمپيوتري خدمتونو وړاندي کولو په پياوړتيا کي ګټه پورته کولای سو.

۱.ډېره به  غوره وي چي د کمپيوټر ساينس پوهنځی داسي پروګرامونه ډيزاين  کړي چي  زموږ د کاوباريانو چارو سره مرسته وکړي، او دوی ته په دې برخه کي روزنه  ورکړی.

۲.په اوسنيو شرايطو کي د IT برخه کي زده کړيز مواد په تېره بيا  ملی ژبو باندې ډير کم دی،  هيله ده د روزنيزو مراکزو او موادو بډايولو ته توجه وسي، يعني په ملي ژبو پخواني آثارو وژباړل سي او هم د نوي آثارو ليکل دي له دې سره سره بايد په نوموړې رشته کي کسان وروزل سي.

۳.د منجمنټ او د تشبثاتو د اداري په ديپارتمنت کي بايد درې  کريډيټونه د IT د زده کړي  لپاره اضافه سي.

۴.د نورم او سټنډرډ  اداره بايد د ملي توليد لپاره د پرمختللو هيوادو په شان د IT لارښود وضع او معيارونه او ډيټابيس يې  د دوی  واک کي ورکړي.

۵.ضرور ده چي د هيواد د توليدي تصديو دننه د يوه پروګرام له مخي د کمپيوټر مسلکي کورسونه داير سي، او د دوی سره د پروګرامينګ برخه کي  مرسته وسي، او دوی  وهڅول سي چي نوموړي پروګرامونه زده کړي او عملي يې کړي.

**اخځلیکونه:**

Anderson, J.E. (1968). Organizations in Action. By James .1 D. Thompson. (New York: McGraw-Hill, 1967. Pp. x, 192. ..$7.95.). The Journal of Politics, 30, 579-580

PDF) Modulhandbuch - wiwi.rub.de · Seminar zur ) .2 Vertiefung der verhaltenswissenschaftlichen Grundlagen der Personal- und Führungsforschung X Strategisches Controlling X Unternehmensanalyse. (2014, April 25). Dokumen.tips. https://dokumen.tips/documents/modulhandbuch-wiwirubde-seminar-zur-vertiefung-der-verhaltenswissenschaftlichen.html?page=1

Introduction To Information Technology 2537297 .3 Mcgraw Hill. (2008, December 21). Pdfkeys.com. https://pdfkeys.com/download/2537297-Introduction-To-Information-Technology-Mcgraw-Hill.pdf

COVID-19 AND E-COMMERCE - Home | UNCTAD .4 download / covid-19-and-e-commerce-home-unctad.pdf / PDF4PRO. (2022, January 21). PDF4PRO. https://pdf4pro.com/download/covid-19-and-e-commerce-home-unctad-69aae0.html. 4. 5. 5. Essentials of Marketing Research. (2008, June 11). Bookboon.com. http://bookboon.com/en/marketing-research-an-.introduction-ebook

González Moncada, V. (2020). Impact of COVID-19 on .6 transport and logistics connectivity in the Caribbean. https://repositorio.cepal.org/server/api/core/bitstreams/89ef4f08-c7fb-495c-a4b8-3ac39ca66610/content. 7. 7. Maliszewska, Maryla, Mattoo, Aaditya, & van der Mensbrugghe, Dominique. (2020). The Potential Impact of COVID-19 on GDP and Trade. .http://hdl.handle.net/10986/33605

Simola, H. (2021). The impact of Covid-19 on global .8 value chains. https://www.suerf.org/docx/f_61fe616efad31ae74399ecdd090ac14d_22639_suerf.pdf. 9. 9. UNCTAD. (2020). Impact of the Pandemic on Trade and Development TRANSITIONING TO A NEW NORMAL. United Nations Conference on Trade and Development. https://unctad.org/system/files/official-document/osg2020d1_en.pdf. 10. When Trade Falls- Effects of COVID-19 and Outlook. (2020). https://www.ifc.org/content/dam/ifc/doc/mgrt/ifc-covid-.trade-final-3.pdf

# Impact of Information Technology on Entrepreneurship

Arsalan Watandar[1*], Dr. Ali Ahmad[2] and Mohibullah Amini[3]

[1,3]Teaching Assistant, Department of Business Administration, Faculty of Economics, Bost University, Email: ar.watan1988@gmail.com

[2]Assistant Professor, Agricultural Economics and Extension Department, Agriculture Faculty, Helmand University

## Abstract

Ecommerce has created multiple opportunities in develop nations at the same time Ecommerce has provided many opportunities both for emerging and established companies. Ecommerce plays vital role in distribution of goods and rendering services. Ecommerce faces several challenges i.e. financial, resources and governance, however those countries which have overcome these challenges have the capabilities to use these platforms in order to overcome national and international challenges in this review paper Ecommerce in 9 countries have been discussed and analyzed. Around 1981 people of different demographic profiles have been questioned through online questionnaires as per the finding 50% of people were satisfied with Ecommerce 30% of the respondent were not sure about it and 20 percent of the respondent were not satisfied with buying goods and services electronically.

**Keywords:** entrepreneurship, IT, Ecommerce, control and products.

# BOST

Academic & Research National Journal


| Valume | Issue | Year |
|---|---|---|
| 2 | 1 | 2023 |